عبدالغفور لېوال

۲۰۲۴/۱۰/۰۳

# غرور

ستا هغه غرور ځار
چې ماتېده...
نه!
نه!
چې ماتاوه دې
په ادا،
په ناز،
د سترګو
ورورځو
او شونډو
په خوځون.
ستا هغه غرور ځار،
چې ماتاوه دې
او
احسان دې يې په ما کاوه
چې:
ها درواخله،
پوهولم دې،
چې دا غرور يوازې ماته ماتيږي.
ستا هغه غرور ځار
چې:
بې‌غږه
بې‌وينا
بې‌شوره
يې له ځانه سره مات کړم.
چې رنګ يې کړم
او
مات
مات
مات
يې غېږ ته دروغورځولم.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ